# MEALYBUGS— شـــــــکـرک

**GRAPE MEALYBUGS** (*Pseudococcus spp.*) دانگوروشـــــــکرک

**CITRUS MEALYBUG** (*Planococcus citri*) دنارنجانوشـــــــکرک



دانگوروشـــــــکرک



*Vine Mealybug Note lack of filaments*



*Ants tending vine mealybugs in early spring*

دنارنجانوشـــــــکرک






*Mealybug attacked by Mealybug Destroyer*






*Mealybug crawlers on vine pruning*

# MEALYBUGS

**توضیحات:** شکرک په افغانستان کی په انګوروکی یوجدی آفت دی. همداآفت دنارنجوکورنی هم نیسی. اکثرآحشری ژمی دهګیوپه شکل تیروی چی په پسرلی کی له هګیوڅخه راوزی. خودانګوروشکرک دبچی په شکل ژمی تیروی.کله چی بچی له هګی څخه راوزی رنګ یی ډیرژیړوی. خوزرموم رنګه موادله څان څخه راباسی. ددی حشری له ۳-۲ نسلونه په کال کی تولیدیږی. داحشره نباتی شیره زبیښی دنبات قوت کموی اومیوه خامه تویږی. ددی حشری په شاتودانګورومیوه هم ککړیږی. چی یونوع پوپنکه پی راپیداکیږی.

**نظارت اوتفتیش:** کله چی دانګورومیوه راټولیږی په دغه وخت کی باید دانګورومیوه معاینه شی ترڅوچی دراتلونکی کال وضع معلومه شی. په ژمی کی دسرمین پوستکی په چاقوپوست اوخزندی معاینه کړی. همدارنګه له پوستکی لاندی له بچیواوښځینه حشراتودپیوند په ځای کی پوستکی لاندی اودزړوشاخه بری زخمونوکی اودپیخانوپه مینځ کی وګوری. په کشمشی انګوروکی که ۲۰ فیصده دمیوی پیخان خزنده ولری نوباید دژمی په آخرکی دواپاشی وشی. خودخوراکی انګورولپاره ۱۰ فیصده  خزنده کی باید دواپاشی شی.

**دمیږیانوحضور ددی حشری موجودیت ښیی.**

**دمخنیوی لاری چاری:** شکرک په طبیعی ډول ډیرزیات دښمن لری لکه پرازیتونه، دښمن چی دپالبینکی په شکل دی. دپالبینکی چینجی دشکرک سره ډیرمشابهت لری. خوله یی لویه ده اودموم به شکل تارونه لری. کولای شودادښمن په پسرلی کی باغ کی معرفی کړو.

باید دمیږیانومخنیوی وشی ترڅوچی طبیعی دښمن خپله وظیفه اجراکړی. که مونږتاکولاندی شاخل وکرودابه میږیان نه پریږدی چه پاس ولاړشی اوشکرک ته مزاحمت پیداکړی.

**شـــــاخـــــه بـــــری:** باید یقین حاصل شی چه دی انګووښکالی جداجدا له څانګورازوړند وی دشکرک ښځینه بالغه حشره وزرونه نلری نوتاسی باید له بل باغ نه دغه حشره ونه لیږدوی. تداوی دخذندوپه مقابل کی اغیزمنه ده خوکه دانګورووښکی یوبل ته نږدی وی فایده نلری. کله چی غوټی وپرسیږی بوپروبین دواپاشی کړی اووروسته داوړی په لومړیو کی باید دواپاشی شی. امیدوکلاپ رید ډیرزیات سیستمیک ده باید له ګل اوبولګولوڅخه دمخه په ځمکه کی واچول شی.

دی باغونودتیلودواپاشی چه نری رنځ لری له کلوروپایرفوس سره یوځای په نارنجانوکی استعمالیدی شی. همدارنګه دامیدوکلوپرید اوبروفیزون هم اغیزه کوی.